آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

داکتر نجیب الله بارکزی ۲۰۱٦/۰۳/۰۷

# د ښځو مقام د پښتنو په تأریخ او ټولنیز ژوندانه کی

د اوسپنیز میره، ترقی خوښونکی، پر هیواد مین او د وطن اصلی بچی غازی امان الله خان په مټ د افغانستان د ویاړلی خپلواکی او آزادی د استرداد وروسته، د ویاړونو څخه ډک پښتون قوم په بعضو مواردو باندی تورن شوی دی چی په اصل کی د دوی د ذاتی فطرت سره سازګار ندی. د هغه جملی څخه یو هم د ښځو د ټولنیز مقام او حقوقو نه



پیژندل دی. ومی غوښتل څو کرښی ولیکم ترڅو وکولای سی هغه دسایس چی د دښمنانو لخوا په لاره اچول شوی دی، بربنده کړی. دغه دسایس د کوم وخته شروع شوی دی او لاملونه یی څه دی؟ پښتانه خپل د ویاړلی تاریخ په اوږدو کی، د دی په څنګ کی چی هیڅ یو اشغالګراستعماری قدرت ته یی سر ندی ټیټ کړی او هیڅکله یی هم د ذلت ژوند یی ندی منلی، د ښځو لپاره د ټولنی د نه بیلیدونکی برخی په توګه د پیړیوو راهیسی چی په نړی کی د بشر او د ښځو د حقونو هیڅ خبره هم نه وه، ښځو ته خپل په ټولنه کی ډیر ښه مقام قایل شوی دی. پښتانه خپل د ټولنیز او سیاسی ژواندانه د تاریخ په بهیر کی، په ټولو ټولنیزو، سیاسی، اقتصادی، دولتی اداره او حتی په نظامی چارو کی پتمنی ښځی او نارینه بیله کوم تعصبه اوږه په اوږه کار او په ګډه هلی ځلی کړی دی. ښځی په مختلفو دورو کی په ټولو ټولنیزو برخو کی فعالی وی، په مختلفو ادارو کی په افغانی لویو سلطنتونو کی د ښځو لپاره د ښوونی او روزنی آسانتیاوی برابریدلی او هیڅ ډول تعصب موجود نه وو. ښځی د پښتنو د ټولو سلاطینو او وحکمرانانو په سیاست او اداره کی حیاتی او فعاله رول لوبولی دی. د غوریانو د حکومت څخه کولای شو د سلطان راضیه چی په ۶۳۴ ه کی په ټول هندوستان کی حاکمه شوه او د څوکلونو لپاره حکم چلوله او په دهلی کی یی په خپل نوم سکه هم ووهله، په دغه دوره کی



شاید په ټوله نړی کی کومه ښځه د یو غټ ملک حاکمه شوی نه وی. د امریکی د متحده ایالاتو په معاصر تاریخ کی چی ځان د دیموکراسی او بشری حقونو او په ځانګړی توګه د ښځو د حقونو ټیکه دار او حامی بولی، هیڅ یوه ښځه نده توانیدلی چی په هغه ملک کی حاکمه شی.

۲۰۰ کاله مخکی په کلیو او بانډو کی ښځی د کورڅخه بهرد نارینه وو سره اوږه په اوږه کار کولی، او خپل د کار په مقابل کی مزد ترلاسه کولی، "استوارت الفنستون" په دی هکله داسی لیکی: د پښتنوپه لیری پرتو قبایلو کی ښځی د کور څخه بهر د نارینه و سره اوږه په اوږه کار کولی، مګر د دغی سیمی [ افغانستان] په هیڅ یو علاقه کی د ښځو مزد لکه چی په هندوستان کی رواج دی، نه کمیدل. په هندوستان کی چی ښځی در نارینه و په برابر کار وکړی، نیمه دستمزد ورکول کیږی. (افغانان- احوال زنان- ص ۱۸۳)



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

په پښتنو کې د ښځو ترټل شرم بلل کیدل، او هغه نارینه چې په دی کار لاس پوری کول، اعتبار په ټولنه او معاشره کی بایلل، بیاهم ؛استوارت الفنستون؛ په دی هکله داسی وایی " که څه هم اسلامی شرعیت نارینه ته اجازه ورکوی چی ښځی تنبه کړی، خو په پښتنو کی د دغه اختیار څخه کار اخیستل د نارینه د بی اعتباری لامل بلل کیږی."

"الفنستون" بیا د پښتنی میرمنی د آزادی په هکله داسی څرګندونه کوی " پښتنی ښځی د پوړنو سره په ښارونو کی ګرځی، په باغونو کی سره را غونډیږی، که څه هم په حجاب کی دی خو لکه د هندوستان د ښځو په شان محصوری ندی، په عمومی صورت کی د پښتنی ښځی وضعیت د ګاونډیو هیوادونود ښځو په پرتله بد ندی" (افغانان-احوال زنان-ص۱۸۴)؛ الفنستون؛ د پښتنو د وزیر قبیلی چی ښځی د میړه د ټاکلو اختیار لرلی، متعجبه کړی دی، او په دی هکله داسی څرګندونه کوی " د دغی قبیلی فوق العاده خصوصیت دا دی چی ښځی د میړه د ټاکلو اختیار لری، که د کومی ښځی کوم نارینه پسند شی، د ښځی د کورنی څخه ډولچی د نارینه کورته استول کیږی ترڅو د ځوان پر خولی باندی یو دستمال سنجاق کړی، او دغه سنجاق ګیر د دغی پیغلی د ویښتانو د تارنو څخه جوړ شوی دی، ډول وهل په مناسب وخت کی اجرا کیږی او د ښځی نوم اخلی او ځوان که د مهر ولور د ورکولو توان ولری، اړ باسی چی د دغی پیغلی سره واده وکړی" (افغانان-زنان وزیری-ص۳۵۰)

د هوتکیانو دوره او د درانیانو د امپراتوری په دورو کی، ښځی د سیاست او اداری اصلی محور جوړولی. موږ کولای سو چی هوتکیانو او ابدالیانو د دوری څخه نامتو ښځی لکه نازو انا، میرمن زینب، زرغونه انا، لوی ادی، میرمن عینو، غازی ادی او نور د بیلګی په ډول یاد کړو. دا هریوپه خپل وار سره د ملت د برخلیک په ټاکلو او د دولت په اداری چارو کی پریکنده نقشونه یی لوبولی دی.

په دی هکله ځیرونکی «معصومه عصمتی وردک» په خپل کتاب کی «نقش و موقف زنان افغانستان» لیکی «احمدشاه بابا کارپوه ښځو ته په هیواد کی په حکومتی چارو کی د لاسوهنی اجازه ورکول، دوی ته یی لقبونه وټاکل، په ځانګـړی توګه د ښځو په اړوند او د ښځو د حقونو لپاره یی د فرمانونو د صادرولو حق ښځو ته تفویض کړل. چی کومه ښځه یی د یو کار لپاره ګمارله، مهرونه یی هم ورته جوړول ترڅو هغه فرامین چی دغی ښځي صادرولی نور هم وزن او اعتبار پیداکړی. دغه نیک رسم د احمدشاه درانی د کورنی او تر هغه وروسته د سدوزایی او محمد زایی په سلطنتونو کی هم دوام وکړ».

د افغانستان د تاریخ په اوږدو کی ښځی په سیاست، اداره او د ظلم او یرغل په مقابل کی مبارزی او د خپلواکی په جګړو کی د نارینه وو په څنګ کی په ونده اخیستلو سره ډیر مهم نقش لوبولی دی.

زه غواړم د زرهاوو نوم ورکی ( ګمنامی) اتلی ښځی د جملی څخه د څو تنو نامتو ښځو څخه یادونه وکړم چی هر یوه خپل په وار سره وکولای شول د خپلواکی او آزادی په مقدسو جګړوکی په مستقیمه توګه ونده واخلی، د خپل پت او عزت په دفاع کی کلک ودریږی، او کله هم د غتو سلطنتونو او امپراتوریو د جوړولو عامل وګرځی. د دوی کارنامی د افغانستان په وياړلی تاریخ که په زرینو کرښو ثبت شوی دی.

## نازو انـــــا:

د «سلطان ملخی توخی» لور چی د کلات ( زابل) د خانانو څخه وو او ویل کیږی چی «سلطان ملخی توخی» د دښمنانو سره په یوه جګـــــړه کی په شهادت رسیږی او زوی یی «حاجی عادل خان)» یا د نازو ورور د دښمن مقابلی ته وځی او خپل خور( نازو) د پلار د کلا د حفاظت لپاره ګماری، نازو د نوروساتونکو په څنګ کی جنګی ( نظامی) کالی اغوندی او ځان په جنګی وسایلو تجهیزه کوی، او په میرانه د کلا څخه دفاع کوی. نازو انا بیا وروسته د «شاه علم خان هوتک» سره واده کوی[1]. د نازو انا په شعری دیوان کی نږدی دوه زره شعرونه درج دی. نازو انا په خپل وار سره خپل زامن د روزنی او ښوونی لاندی نیسی، خپل زوی میرخان( میرویس نیکه) ته تر اووه کلنی پوری ټول دینی علوم او اخلاقیات زده کوی او ورته دا خبره کوی چی زویه! « ته خدای ج د دی دپاره پیدا کړی یی چی ستر کارونه سر ته ورسوی» همدغه وو چی میرخان هوتک به ۱۱۱۹ هجری کال کی افغان ملت او وطن یی د پارس چپاولګرانو، یرغلګرو او اشغالګرانو د لاسه خلاص کړ، او د یو افغانی مستقل او خپلواک حکومت بنسټ یی کښیښودل.

## زرغونه انـــــــا:

د افغان امپراتورۍ بنسټ ایښودنکی لوی احمدشاه بابا مور، یوه مصممه، مدبره، پوهه او غیرتمنه ښځه وه. زرغونې خپل شجاعت او درایت خپل زوی (احمدخان) ته انتقال کړله، چې بیا وروسته دغه ځوان احمدخان په آسیا کې د نړۍ یوه ستره امپراتوري یې را منځ کړه.

په ۱۱۷۴ هجري کې کله چې احمدخان په یوه جرګه کې چې ټول قومي مشران یې را غونډ کړي وه، فیصله پردې وکړه چې یو لوی خندق او محافظتي دیوال د کندهار په چاپیره کې ودان کړي. کله چې دغې زړورې ښځې په کیسه خبرېږي دغې جرګې ته روانیږي، ناڅاپه جرګې ته ننوځي، احمدخان حیرانه کیږي او مورته وایي خیرت خو به وي؟ زرغونه انا د جرګې ګډون کونکو ته وایي « افغانان باید هیڅکله د دیوالونو او خندوقو شاته پټ نشي، بلکه باید مخامخ مبارزه وکړي او د هیواد حفاظت وکړي»[۲] د دغې ښځې مشوره چې د احمدخان د ژوند سرمشق او د ټولو بریاوو راز وو، خپل د مور دغه مشوره یې هم ومنله او د دغه پلان څخه لاس په سر شو.

په یوه بله واقعه کې، کله چې احمدشاه بابا د پانې پټ جګړه ګټي او د دهلي تخت فتح کوي، په کندهار کې په غلطه آوازه خپریږي ګواکې افغاني لښکر په پاني پټ کې ماته خوړلي دی او احمدشاه بابا د جګړې څخه شاتګ کړی دی. په دې وخت کې زرغونه انا د کندهار خلک را غونډوي او خپله تاریخي وینا ورته کوي، هغې برې او ناکامی د خدای ج له طرفه بولي او وایي « ماته او برې د الله ج له طرفه دي، مګر که خبره د جګړې څخه د احمدخان شاتګ(عقب نشیني) وي، ما خپل زوی خپله روزلی دی، او دهرچا څخه یې ښه پیژنم، هغه (احمد) د جګړې څخه هیڅکله هم نه شاته کیږي، او باید مور او تاسي په ګډه سره د خپلو زامنو د شهادت سوګ پرځای کړو». (محقق عبدالرحیم بختانی، نقش زنان در امور مملکت).

د تیمورشاه د مور د حکمراني او اداري په هکله استاد عزیزالدین وکیلي پوپلزایي د (تیمورشاه درانی) به کتاب کې په یوه برخه کې داسې لیکي، « معظمه ملکه د احمدشاه بابا میرمنه خپل په عهد کې د عالیه سلطنتي صفاتو درلودونکې وه، او دشاهي کورنی د حسن اداري خاونده وه، کله چې تیمورشاه د احمدشاه بابا په امر د هرات حاکم وګمارل شو، د احمدشاهي معظمه ملکه د خپل کشر زوی پرځای د هرات ټولې اداري چارې پر مخ بیولې، ملکه معظمه د مستشار او متصدی په صفت د دولت د چارو وارسي کولې.

## لـــــــویه ادی:

د پاینده خان بارکزایي مشره لور او د منصور خان خور اود وزیر فتح خان مور وه، دا ښځه سربیره پردې چې زړور او غیرتمن زامن یې روزلي وه، خپله هم یوه مدبره او سیاستدانه ښځه وه. په سخاوت اوبیوزلو ته په مدد کې مشهوره وه، خلک ورته خاصه عقیده درلوده، او خلکود زړنو محبوبه وه، نو ځکه لکه چې احمدخان ته «بابا»، زرغونې ته «انا» لقب ورکړی وه، دې مدبرې ښځې ته هم خلکود «لویه ادی» لقب ورکړی وو. د لویه ادی د کار روایي له مخې نه یواځې هغې ته د محمدزایي د حاکمیت موسسه وه بلکه خپل میره ته یوه ښه سلاکاره او خپلو زامنو ته ښه لارښوده وه.

## میرمـــن عینو:

غښتلې، غیرتمنه، مدبره او وطندوسته ښځه وه، کله چې د احمدشاه بابا لښکر د هندوستان څخه بیرته د راستنیدلو په حال کې وه، د کابل او کندهار پر لاره لښکرو ته تم کیدلو او استراحت هدایت ورکړل، نو یو سرباز چې کور یې دغه اردوګاه ته نږدې واقع شوی وو، په تلوار سره کور خواته روانیږي ترڅو خپل میرمنه( میرمن عینو) ووینې، میرمن یې د میره ناڅاپه لیدلو چې وروسته له ډیره موده د هندوستان څخه راستانه شوي وو، ډیر خوشحاله شوه، عینو د میره څخه پوښتنه کوي چې بابا ( احمدشاه بابا) چیرې دی؟ میره ورته ځواب ورکوي «هغه دلته نږدې د لښکرو سره دی». عینــــو پر میره باندې ډیر په غصه کیږي او ورته وایي « څو میاشتې ورسره وې، اوس دې دو ساعته نور انتظار نشو کولای او کور ته راغلې په داسې حال کې چې

بابا تراوسه لا په لښکر کی دی » تر لاس یی نیسی او بیرته یی لښکر ته بیایی، کله چی احمدشاه بابا د دغی ښځی د رشادت او شهامت څخه خبریږی، د هغی ډیر قدردانی کوی، یو دولتی کاریز ورته هدیه کوی. دا کاریز تر اوسه هم د « عینو کاریز» په نامه سره یادیږی اود کابل او کندهار په لویه لاره پر عمومی سړک باندی واقع شوی دی. ترجمه (خلاصه داستان عینو توسط پوهاند رشاد).

### غـــازی ادی:

اصلی نوم یی «الماس» دی، میره یی حبیب اکا د کټواز او په قوم سلیمان خیل وو، د بعضی روایاتو پر بنسټ غازی ادی د لوګر اصلی اوسیدونکی وه چی بیا وروسته په کابل کی میشته شوه. غازی ادی د چهارآسیاب، قلعه قاضی، قروغ غر، او سنګ نوشته جګړو کی برخه درلوده، هغی د آسمایی په غره کی د ۴۰۰ نور ښځو سره د انګریزانو په مقابل کی جګړه کوله، د سنګ نوشته په جګړه کی د جګړی قومانده یی په لاس کی وه. غازی ادی د آسامایی د غره په لمنو کی د ۸۰ تنه نورو مجاهدو ښځو او انجونوسره د انګریزانو لخوا په شهادت رسیږی، او په کارته پروان سیمه کی دفنه کیږی، مقبره یی د امیر امان الله خان په امر په مرمرو فرش کیږی. زیارت یی تراوسه د کارته پروان او بهارستان ترمینځ پر عمومی سړک باندی موجود دی.

### ملالی میـــــــوندی:

د افغانستان د تاریخ مشهوره اتله انجلی، کله چی سخته جګړه د انګریزانو او افغانانو تر مینځ د غازی ایوب تر مشری لاندی په میوند ولسوالی کی واقع کیږی، مجاهدین روحیه بایلی او د تندی او لوږی دلاسه ډیر ستړی معلومیږی، ملالی چی په هغه وخت کی صرف د ۱۷ کالو پیغله وه او د دغه سیمی ( میوند) اوسیدونکی وه، د خپلو همزولو انجونو د یو ګروپ رهبری یی په لاسی اخلی اوپه ګډه سره د جګړی میدان ته ورننوځی. دوی مجاهدینو ته اوبه



او ډودی رسولی او د ټپیانو پرستاری یی کولی. کله چی ملالی د افغان بیرقچی ته پام کیږی چی ټپی شوی دی او نږدی دی چی بیرق یی دلاسه پریوځی، نو سمدلاسه منډه کوی او بیرق بیرته پورته کوی او ړپه وی یی او د خپل په حماسی شعرونوپه ویلوی سره د مجاهدینو احساسات را پاروی اود مجاهدینو صفوفو ته فوق العاده قوت وربخښی، په پایله کی دغه نابرابره جګړه د افغانانو په بری سره پای ته رسیږی او د انګریز ټول قوت چی ۱۶۰۰۰ عسکر مجهز په ټانکونو او توپونو وه له منځه ځی. او په نتیجه کی انګریز تصمیم نیسی چی ټول افغانستان تخلیه کړی. د بعضی روایاتو پر بنسټ دغه غښتلی پیغله په دغه ورځ په شهادت هم رسیږی.

### میرمن خجو:

د وزیر اکبر خان مور او اصلی نوم یی «خدیجه» وو، د انګریزانو پر ضد جنګیدله. کله چی وزیر اکبرخان بخارا ته پناه یوړل، د مور(بی بی خجو) لخوا ورته یو پیغام ورسیدل ترڅو ملت د انګریزانو د منګلو څخه خلاص کړی. د میرمن خجو په دستور په هیواد کی پلونه، مدرسی ودان شول، هغی د خپل میره امیر دوست محمد خان د دولت په اداری چارو کی مرسته کوله. دغی منوری او پوهی ملکی دده افغانان رنګه مسجد هم ودان کړی دی او ددی یوه را پاتی یادګاری ده.

### مـــــادر مدد خان:

د «امیر دوست محمد خان» خور، د «عبدالرحیم خان» ښځه چی د «مادرمدد خان» په نامه سره مشهوره وه. د انګریزانو د یرغل پروخت، قرآن شریف یی پر څیګر نیولی او کور په کور د کابل، کوهستان، او پروان د ولایاتونو قومی با رسوخو رییسانو ته یی قسم ورکوله چی د انګریزانو مقابلی ته راووځی او یرغلګر د هیواد څخه وباسی[۴]

**میرمن سپینه:**
د نور محمد خان الکوزی لور، کله چې وزیر یارمحمد خان الکوزی په دوره کې یعنی د ۱۹ مې پیړی په نیمایی کې، او کله چې په ۱۸۳۷م کال کې پارسانو پر هرات باندی یرغل کوی او محاصره کوی، دغې با احساسه ښځه د افغانانو د هلې ځلې یې چې د هرات په دفاع کې کړی وی، خپل په حماسی اشعارو که انځور کړی دی.[5]

**د شاه بوری (په دری ژبه کې ښاه پری) جگړه د بابر د لښکر سره:**
ډاکټر «حبیب الله تږی» خپل د «پښتانه» په نوم کتاب کې لیکی « دتاریخ د روایاتو پر بنست، کله چې د بابر لښکریان په یوکلی باندی حمله کوی، شاه بوری خپل میړه ته وویله: موږ باید د دغه لښکر مخه ونیسو، مگر میړه یې چې دغه شجاعت نه لرله چې دبابر د لښکر په مخ ودریږی، او د شاه بوری خبری ته ی‌ی اهمیت ورنکړ. شاه بوری په یواځې د میړه پر ځای سنگر ونیوله او دکور د ننی ځخه د بابر د عسکرو سره یې جگړه پیله کړه. د بابر هریو عسکر چې غوښتله چې د شاه بوری د کور د مخې تیر شی، د شاه بوری د تیر هدف گرځیدل او پرمځکه به پیروتل. د شاه بوری تیر هیڅکله هم نه خطا کیدل او پدی ډول شاه بوری یو ډیر شمیر د بابر عسکرو ته مرگ ژوبله واړوله او د جگړی له کرښی یې وایستله. باالاخر عسکرو د مخته تللو جراات دلاسه ورکړی وه او لښکر تم شو. پس له دی عسکرو د هریخوا د شاه بوری پر کور باندی برید پیل کړ او د تیرونه په وارولو سره یې د شاه بوری نازکه بدن سوری سوری کړل، وروسته عسکرو د شاه بوری کورته ورننه وتل چې وگوری چې دا څوک وو چې داسی تینگ مقاومت یې کوله، ولیدله چې په کور کې د یوی ښځې پرته بل څوک نشته، او ښځه هم خپلی آخری سلگی وهی. ټول حیران شول او خبره یې بابر ته ورسول، بابر ډیر ژر یو کس یې واستول چې ویی نه وژنی، مگر تر هغه چې خبره عسکرو ته ورسیدل، شاه بوری سا ورکړی وه. کله چې بابر د دغې غښتلی او دلاوری ښځې د میرانی څخه خبر شو، ډیر سخت متاثره شو او خپل عسکر یې ملامت کړل چې داسی ښځې هیڅ څوک هم نه وژنی او باید مو یواری ماته راستلی وای. عسکرو ویله چې هغې داسی تیر ویشتله چې زموږ زرهی کالی هم ورته تنگیدای نشوای او موږ داسی سوچ کوله چې دا باید یو نارینه وی، دغه وو چې ووژله شوه. پادشاه او ټول عسکرود دغې ښځې د شجاعت څخه حیران او تعجب باندی ډوب شوی ول او هریو هغې ته آفرین ویل. تر هغه وروسته چې د عمرخیلو د قبیلې څخه هریو بابر حضور ته ورتلل، بابر د هغو څخه تعریف کوله او په ځانگړی توگه د شاه بوری د کیسی توصیف به یې کول.

**د شاه میرمن سلطان ابراهیم لودی د شجاعت کیسه:**
مرحو استاد رشاد وایی« کله چې بابر په ۹۳۳ه کال کې د هند د لودیانو پښتنو حکومت یې ړنگ کړ او دهلی او آگره یې فتح کړه او پر شمالی هندوستان باندی خپل تسلط یې ټینگ کړ، د سلطان ابراهیم لودی د قتل وروسته، د هغه وړوکی زوی او مور یې افغانستان ته تعبید کړل تر هغه خپل باقی عمر د بدخشان په مظفر کلا کې په بند تیر کړی. میرمن ابراهیم لودی چې د اوښ په کجاوه کې سپاره وه، او د عسکرو تر نظارت لاندی د افغانستان پر لور روان ول، کله چې قافله د اټک د کلا محلی ته ورسیدل، تم شو، او د یوی لنډی دمی وروسته بیا په تگ پیل وکړ، کله چې قافله د سینده د روږ د پله څخه په تیریدلو وه، میرمن ابراهیم لودی ناڅاپه د اوښ د کجاوی څخه را پورته شوه، او لکه خشمگین باز وزری وغوړولی او ځان یې د رود په مینځ کې وغورځوله، ساتونکی په حیرت سره دا منظره په سترگو ولیدل چې څرنگه دغې افغانه زړوره ښځه د اوبو په څپاندو څپو کې ډوبه شوه او مرگ ته یې د اسارت تر ژواندانه ترجیح ورکړه».

د دغی پیښی ۲۶ یا ۲۸ کاله وروسته، کله چی هیبت خان نیازی کشمیر ته پناه یوړل، او د هغه ځای حکمران وربادی یرغل وکړ. هغه ځان دفاع لپاره تیار کړ، او د هغه سره یوځای د هیبت خان مور او ښځه هم د نورو افغان عسکرو سره مقابلی ته تیاري شولی او د خپل عزت او ناموس د دفاع په خاطر د ژوند تر آخری سلګی پوری د دښمن په مقابل کی وجنګیدله، تر هغو چی ټول د جګړی په میدان کی شهدیان شول. دا افغانی ښځی د زړورتوب بله کیسه ده چی مرحوم رشاد، عبدالقادر بدایوانی په منتخب التواریخ کی د دغی کیسی ذکر یی کړی دی، سربیره پردی په « کمبریج هستری آف اندیا» کی هم د دغی حماسی کیسه یاده شوی ده.

**پښتنی میرمنی او پیغلی د هندوستان په بهوپال کی نږدی دو سوه کاله حکمرویی کړی دی:**

په اتلسمه پیړی کی کله چی په برتانوی هند کی نوابانو حکمروایی کوله، «دوست محمدخان» په قوم اورکزیی د « بهوپال» د ټولی سیمی امیر وو [نږدی دو سوه کاله هلته حکمروایی وکړه، تقریبا ټول واکمنان یی پښتنی میرمنی وی] او وروسته واک یی زوی «نذر محمد» ته انتقالیږی . «نذرمحمد» و صیت کوی چی " که چیری نا څاپه مړ شی نو د ده لور«سکندر بیګم» به د ټول «بهوپال» نوابه وی، ترڅو چی دا ځوانه شوی نه وی پخپله ګوهر بیګم (قدسیه) به د دی سرپرسته او د « بهوپال» واکمنه وی، او کله چی « سکندر بیګم» ځوانه شوه، بیا به د اورکزیو په کورنی کی به ودیږی او د دی خاونده به د « بهوپال» نوابه شی". بیا کله چی « نذرمحمد» وفات کیږی نو د وصیت نامی مطابق د « نذرمحمد» میرمنه « قدسیه بیګم» د لور« سکندر بیګم» په نیابت و « بهوپال» واکمنه کیږی.

قدسیه بیګم د ستر په ساتلو سره د بهوپال چاری ښه پرمخ بیولی،آس سپرلی، پوځی تربیت و د جنګ فن یی زده کړی وه. قدسیه بیګم په عقیده ټینګه مسلمانه میرمنه وه، او دایی نه منله چی ښځه د ریاست مشره کیدای نشی، دایی وویله چی خلکو د ښځو د مخنیوی لپاره د اسلام څخه ناوړه ګټه اخیستی ده.

د قدسیه بیګم لیور(منیر محمد) چی خپل د وریندارۍ واکمنی نشو زغملای، روهیله پښتانه یی د ځان سره مل کړه او و قدسیه بیګم د وژلو تابیا یی وکړه، څرنګه چی د قدسیه بیګم استخبارات ډیر قوی وو، د دغه پلان څخه خبریږی، د دوی پټ مرکز محاصره کوی او جنګ پیلیږی، دا جګړه څلور ورځی دوام کوی او د دواړو خواوو څو نفره پکښی وژل کیږی. جنګ د قدسیه بیګم په ګټه پای ته رسیږی او مخالفان د « منیر محمد» په شمول نیول کیږی. « منیر محمد» لاس تړلی قدسیه بیګم ته حاضروی، منیرمحمد د هغی پښو ته پریوتل او معافی یی وغوښتل، هغی هم معاف کړ. وروسته دغه سلسله دوام کوی او په ترتیب سره لاندی میرمنی په وار سره د واکمنی چاری په لاس کی اخلی:

۱. قدسیه بیګم
۲. سکندر بیګم
۳. شاجهان بیګم
۴. سلطان جهان بیګم

د سلطان جهان بګم لور« عابده بیګم» د هندوستان لمړنی مسلمانه پیلوت ده.

لکه څرنګه چی جوته کیږی د افغانستان د تاریخ نږدی په ټولو غتو برياوو کی اساسی برخه د یوی ښځی وه. په افغانستان د انګریزانو د ماتی اساسی لامل هم دغه وو چی د افغانستان ښځی او نارینه اوږه په اوږه هلی ځلی او مبارزی کولی. د افغان او انګریز په اکثرو جګړو کی، د افغانانو د احساساتو اصلی محرک ښځی وی. او دغه لامل وو چی یرغلګرو قوتونه او په ځانګړی ډول انګریزانو دغه د تحریک اوپیاوړتیا عوامل یی تشخیص اوپه ګوته کړه او د له منځه وړولو لپاره یی هلی ځلی پیل کړی. د دی لپاره یی دوه مهمی برنامی طرحی کړی:

۱-	د نیمګړی مذهبی مدارسو جوړول د دیوبندی مدرسو په نامه:
۲-	د چادری یا برقع رواجول

**دیوبندی مدرسی:**

افغان ځوانان یی دغو مدرسو ته جلب کړل او ورته ناقص مذهبی تعلیم په لړ کی د ښځو، تعلیم او ترقی ضد احساسات ورتزریق کړل. په هماغه لمړیو وختونو کی د دغه کښت لمړنی حاصل یی د غازی امان الله خان د حکومت ړونګول د سقاو د زوی ( یو مشهور لاره وهونکی) په لاس چی د دیوبندی تش په نامه روحانیونو او د برتانوی هند په حمایت ورسره وه، لاس ته راوړ. د وخت په تیریدو سره او د پاکستان په جوړیدو دغه شیطانی مدرسی چی نور د افغانستان څخه واتن اخیستی وی، لیری شوی وی او نشو کولای نور هغه پخوانی موثریت پر افغانانو ولری، هغه مدرسی یی د پاکستان په قبایلی سیمو کی د «تش په نامه دیورند کرښی» ها خوا را انتقالی کړلی، او پر دغو مدارسو باندی ډیری غټی پانګه اچونی هم شوی دی... انګریزان خپله په دغه شوم پلان باندی ښه بریالی شو، او وروسته د سیمی څخه په وتلو سره دغه شیطانی دغه پروسه یی اوسنی پاکستان ته وسپارله. اوس اوس په لس هاوو زره دغه ډول مدرسی د «تش په نامه دیورند کرښی» هاخوا موجودی دی چی د افغانستان او پاکستان هغه ټولی سرحدی پښتنانه میشتی سیمی یی د دغه تیارو تر پوښښ لاندی نیولی دی.

**د چادری( برقه) رواج کول:**

دویم پلان چی انګریزانو د افغانانو د تضعیف په موخه پکار اچولی وو، د غیر شرعی حجاب ترویجول وو چی د چادری( برقع )په نامه مشهوره دی. چادری یا برقع یو غیر اسلامی حجاب دی او پخوا د هندوانو د فرهنګ حصه وه. د افغان او انګریز په ټولو جګړو کی ښځی او پیغلی د نارینه ترڅنګ په مستقیم ډول برخه اخیستلی، او یا نارینه مجاهدینو ته خوراک او اسلحی ورسولی، دغه وو چی په یوه ورځ تر ۸۰ ډیری ښځی او پیغلی چی د «غازی ادی» تر قوماندی لاندی د کابل په اطرافو کی جنګدیلی، شهیدانی شولی. تر دغه دمه افغانی ښځی او اونجونی په اسلامی حجاب او لوڅ مخونه، او د افغانی مروجو کالیو په اغوستلوسره د جګړی په میدان کی د غازیانو سره ملی وی. انګریزان د دغو تحرکاتو د له منځه وړلو په موخه، یو سلسله هل ځلی شروع کړی تر څو وکولای شی ښځی د جګړی له میدانه جلا کړی، او د نارینه وو د احساساتو عوامل له منځه یوسی. دغه وو چی د امیر دوست محمد خان د سلطنت په دوره کی د دیوبندی مدرسو د متعصبو شاګردانو له طرفه چی د انګریز د پلان یوه حصه یی جوړوله، چادری چی هیڅ ډول شرعی او اسلامی بنسټ و توجیه نلری، سوکه سوکه کابل ښار او ځینی نورو ښارونو کی رخنه کوی، د وخت په تیریدو سره وکولای شول تر یوی اندازی د افغانی اسلامی حجاب چی تر اوسه هم د هیواد په ډیری سیمو کی، د ښارونو په اطرافو کی د «چادر نماز او یا پوړنی» په مختلفو رنګونو رواج دی ، ځای ونیسی. تر ننه پوری موږ کولای شو چی د اصیلی افغانی پوړنی او حجاب نمونی چی یوه کامله شرعی حجاب ده، په شرقی، جنوبی، غربی او د کوچیانی ښځی په مینځ کی او تر یوه اندازی د افغانستان په شمال کی وګورو.

بالاخره لوی «غازی امان الله» د خپل د سطنت په پیل کی امر ورکړه چی هندوانی ښځی دی په خپلو چادریو کی یوه تور ټوکر ولګوی، ترڅو د مسلمانو ښځو نوی رواج سوی چادری څخه توپیر وشی. او کله چی «غازی امان الله» د انګریز د دغی توطیه څخه خبریږی، پر چادری باندی یی د « فساد کڅوړه» نوم کښیښودل او مکمل بندیز یی پر ولګول. وروسته بیا د سقاو زوی ( مشهوره رهزن) چی د دیوبندی ملایانو او انګریزانو په ملاتړ په کابل کی قدرت

ته ورسید، یو واری بیا چادری یی په جبر سره پر خلکو تحمیل کړه. چادری په اصل کی د هندوانی ښځی مخصوص لباس وه، چی نمونی یی اوس هم د برتانوی هند( اوسنی پاکستان) په بعضو سیمو کی تر سترګو کیږی.

د افغانستان د پخوانی شوروی د لښکرو په وسیله د یرغل وروسته، یو وار بیا د افغانستان دښمنانو ته لاره هواره شوه ترڅو دغه د تیاره اچونی پروګرام ته په افغانی ټولنه کی زور ورکړی، او د افغانستان یو شمیر خلک په ځانګړی ډول پښتانه په دیوبندی ناروغی( تعلیم ضد، ترقی ضد، او ښځی ضد) اخته کړی.

سربیره پردی چی د مجاهیدینو او بیا د طالبانو په حاکمیت کی، چادری بیرته په افغانستان کی جبری شوه، مګر دغه پدیده تر ننه نده توانیدلی چی د افغانستان په بومی سیمو کی رواج شی... د طالبانو د رژیم په ړنګیدلو سره د افغاتستان اکثراً پښتون میشت اطرافی خلک په جنوب، شرق او غرب کی خپلی چادری لیری وغورځولی، او خپل اصیل افغانی پوړنی بیرته پرسر کړی او خپل شرعی حجاب یی خوندی کړی دی.

راځی چی یو ځلی سرونه په ګریوان کی کړو اود ځان څخه پوښتنه وکړو چی ولی دا زموږ په اصطلاح اوسنی رهبران چی د پاکستان( د انګریز وارث) څخه را آستانه شوی دی، او د افغانستان ټول قومونه پکښی شامل دی، نه غواړی چی ښځی یی د اسلام په چوکاټ کی په ټولنه کی فعاله وی؟ او لکه د صدر اسلام ښځی په ټولنیز، اقتصادی، او سیاسی ډګر کی فعاله وی؟ ولی دغه په اصطلاح رهبران چی څلور شپی په پاکستان کی تیری کړی دی، نه غواړی چی لکه خپل ویاړلی پلرونو او نیکونو چی پیری مخکی یی حکومتونه او امپراتوری یی اداره کول، په دولتی اداره کی خپلی ښځی شریکی کړی؟ ولی دا ننګ بولی چی یی خور لکه «بی بی خدیجه رض» تجارت وکړی او میندی یی لکه «بی بی عایشه رض» د هیواد په سیاسی چارو کی تصمیم ونیسی؟ او ولی د پیریو په تیریدو سره شا ته تللی یو او هغه ټولنیز فضا چی موپیری مخکی لرله، بیرته احیا کولای نشو؟ او بالاخره ولی هغه ملت چی د تاریخ په اوږدو که غلامی نده کړی او آزاده اوسیدلی دی، اوس آزاد اوسیدل ناشونی بولی؟؟؟

دغه ټولو پورتنیو پوښتنو ته ځواب صرف یوه جمله ده «موږ ته د تاریکی او تیاری(جهالت) مرض تزریق شوی دی چی په شدت سره کمزوری کوونکی، تخریبونکی او وژونکی دی، که هرڅه ژر د دغه مرض علاج ونکړو، نو ختم به شو...

**پښتانه کوچیان:**

د افغانستان کوچیان ځرنګه چی دوی په یوه سیمه کی میشت ندی، وتوانیدل د دغه وژونکی مرض څخه بچ شی، که څه هم د افغانستان محیط او ماحول پر دوی باندی هم کاملا بی اثره ندی پاته شوی، بیا هم په عمومی صورت کی دغه ټولنه خپل په طبیعی ډول پاته شوی ده. موږ ډیر په آسانی سره کولای شو چی د ښځو د آزادی او د نارینه وو سره د برابر حقوق د کوچیانو په ټولنه کی وګورو. کوچیان بیله کوم جنسی تعصبه، نر او ښځه په ګډه سره کار کوی، په ګډه د ژوند د ناخوالو سره مبارزه کوی، اوعند الزوم په یو سنګر کی جنګیږی، د دوی دغه د تعصبه پاک ژوند د دی لامل شوی دی چی دوی د ډیری تجاوزاتو او تیریو څخه په امان کی پاته شی، سربیره پردی چی شپه او ورځ په دښتونو، غرونو او بیابانونو کی تیروی، څوک جرائت نشی کولای چی دوی ته آسیب ورسوی، دا د دوی د پیاوړتیا نښه ده. دوی په ټولو ټولنیزو، کلتوری، او اقتصادی چارو کی په ګډه سره تصمیم نیسی، او په ګډه سره هغه د عمل په ډګر کی پلی او اجرأ کوی. که څه هم دوی د نری د ټولو نویو آسانتیاو او تکنالوژی څخه محروم دی، او د نری هیڅ سهولت ته لاس رسی نلری او ډیر په بدوی حال کی خپل ژوند تیروی، بیاهم ویلای شو چی د کوچیانو ژوند په

افغانستان کی د پښتنو د ژوند یوه ښه بیلګه او نمونه کیدلای شی. پښتانه مخکی لدی د جندر او د ښځو د حقونو قوانین او برنامی وربا‌ندی عملی شی، دښځو حقونو ته احترام کول او فوق العاده مقام یی په ټولنیز او اجتماعی ژوندانه کی ورته قایل شوی وه، او ټولی انسانی آزادی یی د پت او عفت په حیطه کی تامین کړی ول.

د افغانستان په تأریخ کی د پښتنو بعضی نامتو ښځی په تاریخ:

دا یو کامل لست ندی، په سل هاوونامتو ښځی د افغانستان په تاریخ که ثبت شوی دی او په زرهاوو تنه نوری ښځی نوم ورکی ( گمنامی) پاتی شوی دی... دا یوه نمونه ده چی د اصیلو پښتنو عالی کلتور ښکارندویی کوی چی په نورو قومونو کی یی ساری نه لیدل کیږی.

۱. سلطان راضیه: پورته یی معرفت شوی دی

۲. زرغونه کاکړ: په ۷۸۴هق کال کی زیږیدلی ده، یوه عالم اوعارفه شخصیت او یوع شاعره وه، او یوه ترټولو غټ خطاطه هم وه.

۳. بی بی الایی: په ملی مبارزو کی یی ونده درلوده، یوه ډیره زړوره، شجاع، او با همته ادعلم او پوهی خاونده وه.



٤. حلیمه خټک: د زیږدیدو نیټه یی ۱۰۶۵ ه.ق تخمین شوی ده، خپل د دوری د نامتو شاعرانو څخه وه چی خواږه او ساده شعرونه یی ویله.

۵. میرمن زینب: د شاه محمود هوتک او اصفهان فاتح خور وه، په حکومت داری او دینی علومو کی دیر مهارتونه درلودله او یوه ښه شاعره او ادیبه هم وه.

٦. عایشه درانی: دعلیخان بارکزایی لور، یوه ښځینه شاعره وه خپل دیوان یی به ۱۲۳۲ ه.ق کال تکمیل کړ، چی مختلف او مهم محتویات لری. هغی په ۲۰ کلنی څخه د عمر تر آخره پوری خپل ادبی ذوق یی په ښه توګه خوندی کړه.

۷. آمنه فدوی: په ۱۲۷٦ ه. ق په کابل کی زیږیدلی ده، یوه شاعره او عالمه وه او ډیر کامیابه او پیاوړی لیکونکی وه. د دی اشعار ډیر آرمش بخشه او د محتواو څخه ډکه ده.

۸.	میرمن عایشه: د سردار میر افضل خان لور

۹.	میرمن کرم:

۱۰.	گل ناره انا: په یوه نیمه کوچی کورنی کی نری ته سترگی غوړولی ده. مور یی د چکری او خورد کابل د سیمی د پښتنو د قبیلی ښځه وه او پلار یی سلیمان نومیدل. د کوچنیوالی ښځه یی ساده کالی اغوستل، ناترسه او زړور وه.

۱۱.	میرمن سپینه( سپین ادی): میرمن سپینه د نور محمد خان الکوزی د وزیر یار محمد خان هم عصر وو. کله چی ایرانیان پر هرات باندی یرغل کوی،او هرات یی تر محاصری لاندی راوستل، دا نامتو ښځه د جگړی، او افغانانو هلی ځلی یی د هیواد په دفاع کی په خپلو شعرونو که انځور کړی ده،

۱۲.	معصومه ترور:

۱۳.	مادر مدد خان: د امیر دوست محمد خان دریم خور، او د سردار پاینده خان بارکزی لور.

۱٤.	بی بی شمسو: د دغی نیک سیرته او صاحبدلی ښځی پلار شیخ حسن نومیدل. شیخ حسن د بایزید روښان انصاری (اورمړ) چی په پیر روښان مشهوره وه. د دی پرتمنی کارنامی په سیاسی، اجتماعی، او کلتوری او عرفانی برخو کی یوه بیساری مقام یی د افغانستان په تاریخ کی ور بخښلی دی.

۱۵.	میرمن حره جلالی: یوه منوره، فاضله، او علم دوسته ښځه د غوریانو په دوره کی وه،د سلطان بهاولدی سام مور، او د غیاث الدین محمد سام او سلطان معز الدین خور، منهاج السراج وایی چی میرمن حره سلطانی د دواړو ورونو ښځه ښه وه.

۱٦.	میرمن نیکبخته: شیخ الله داد مموز لور، په اشنغر کی ژوند کاوه، په ۹۵۱ کال کی د شیخ قدس الله سره واده وکړه. نیکبخته یوه عارفه، او پوهه ښځه وه، دینی علوم یی زده کړی وه او په شاعری کی هم ډیر استعداد درلوده.

۱۷.	لطیفه کبیر سراج: دافغانستان د تاریخ لمړنی نطاقه

۱۸.	میرمن رابیا

۱۹.	قدسیه بیگم

۲۰.	شاجهان بیگم

۲۱.	سلطان جهان بیگم

۲۲.	د سلطان جهان بگم لور« عابده بیگم» د هندوستان لمړنی مسلمان پیلوته ده.

## مـــآخـــذ:


۱-(کبرا مظهری، پشتنی لیکوالی اوشاعرانی، ۱۳٦٦، ص ٥_٦، بحوالهٔ پته خزانه، ص ۱۰۱)

۲-روایت اکادمیسین رشاد

۳-(غبار، احمدشاه بابا، ص ۷۱)

٤- کتاب زندگی امیر دوست محمد خان، جلددوم ص۲۷٥/مؤلف موهن لال سفیر سابق انگلیس در افغانستان).

٥-(کبرا مظهری، پشتنی لیکوالی اوشاعرانی، ۱۳٦٦،ص۲۱بحوالهٔ پشتنی میرمنی، از بینوا، ص ۷٤)

٦-.( پشتانه صص ۱٥۱_ ۱٥۲،بحواله تواریخ حافظ رحمت خانی صفحات ۱۱۱ _۱۱۹، طبع پیشاور۱۹۸۷)

۷- بهوپال، د هندوستان پښتانه